


Kardan Journal Law (KJL)

ISSN: 2707-3181 (Print and Online), Journal homepage: https://kardan.edu.af/KJL

# Regulation on Bachelor Degree Education: Problems and the Way Forward

**Abdullah Fazalyar**

**To cite this article**: Fazalyar, Abdullah. "Regulation on bachelor degree education: problems and the way forward", *Kardan Journal of Law*, (2021), 3 (1), 36-54.
DOI: 10.31841/KJL.2021.16

**To link to this article:** http://dx.doi.org/ 10.31841/KJL.2021.16

*© 2021 The Author(s). This open access Article is distributed under a Creative Commons Attribution (CC-BY) 4.0 license*

*Published online: 25 December 2021*

*Submit your article to this journal*

Article

# Regulation on Bachelor Degree Education: Problems and the Way Forward

**Kardan Journal of Law**
**3 (1) 36–54**
**©2021 Kardan University**
**Kardan Publications**
**Kabul, Afghanistan**
**http://dx.doi.org/ 10.31841/KJL.2021.16**
***https://kardan.edu.af/KJL***

**Abdullah Fazalyar**

Received: 20 July 21
Revised: 25 Sep 21
Accepted: 20 Nov 21
Published: 25 Dec 21

## Abstract

*Educational systems have a direct impact on the process of learning and academic achievements of students and faculty members alike. In an attempt to standardize higher education and introduce a binding regulatory framework, the Regulation on Bachelor Degree Education, 2020 applies to both the private and public sectors in Afghanistan. The Regulation,* prima facie, *suffers from problems that are divided into two sets. Firstly, issues whose presence or existence in the Regulation leads to problems; these include, but are not limited to, an excessive number of Objectives set in Article 2; contradiction with provisions of other laws in force; vagueness and ambiguity of certain provisions; violation of academic autonomy of institutions of higher education; and emphasis on certain matters that are non-compliant with the reality and norms prevalent in the Afghan society. The second set comprises of issues that are absent while they should have been part of the Regulation. These include, for instance, a mechanism for achieving each Objective set for the Regulation; rules and principles appropriate for applied sciences, medical, and engineering because it appears the Regulation is drafted in view of social sciences only; the maximum number of students to be enrolled in a class; provisions dealing with Grade Point Average (GPA); practical work and research for students; E-Learning; mechanism for incorporating mechanism of quality assurance and quality enhancement in bachelors program. This paper analyses problems that the Regulation suffers from in a descriptive critical method and ends with particular recommendations.*

**Keywords:** *Afghanistan, Higher Education, Regulation, Bachelor, Credit System*

# د لېسانس د دورې د زده کړې مقرره: ســــــتونزې او حل لارې

عبدالله فضليار

## لنډيز

څېړنې په ډاګه کوي چې تحصيلي نظام په زده کړه او تحصيلي لاس ته راوړنو مستقيم تاثير لري. ځکه نو لازمه ده چې تقنيني اسناد د منل شوو معيارونو سره سم د يو تحصيلي نظام بنسټ کېږدي. په افغانستان کې، د لېسانس د دورې د زده کړې مقرره چې په ۱۳۹۸ هـ.ش. کال کې تصويب شوې، د ليسانس د تحصيلاتو د تنظيم هڅه ده. دا څېړنه د توصيفي - انتقادي ميتود څخه په ګټه اخيستو د نافذه قوانينو په رڼا کې د يادې مقررې ستونزې په ګوته کوي او د حل لارې پېشنهادوي. داسې ښکاري چې مقرره که ښېګڼې لري، ستونزې يې هم د پام وړ دي. د اسانتيا په موخه د مقررې ستونزې په دريو برخو ويشل شوي دي. لومړی، هغه موارد چې په شتون کې يې ستونزې دي، لکه: د مقررې د اهدافو د شمېر زياتوالی، د مقررې د ځينو مادو او نورو نافذه قوانينو تر منځ تضاد، په ځينو مادو کې مبهم والی، د لوړو زده کړو مؤسساتو د اکاديميک استقلاليت نقض کول، او د مقررې د ځينو مادو له واقعيتونو او افغاني ټولنې د عنعناتو سره تضاد. دوهم، په مقرره کې د ځينو لازمو مواردو نه شتون هم ستونزې زېږولی دي، لکه: د ګڼ شمېر اهدافو د تر لاسه کولو لپاره په متن کې د عملي ميکانيزم نه شتون، طب، انجينيری، کمپيوټر ساينس، او نورو تطبيقي علومو سره د ټولنيزو علومو په څېر تعامل، په ټولګي کې د محصلينو د شمېر لپاره حد نه ټاکل، د نومرو او علامو په يادولو بسنه او د GPA نه تعيينول، عملي فعاليتونو او علمي څېړنو په هکله د مادو نه شتون، برېښنايي زده کړو «E-Learning» ته نه پاملرنه، د کيفيت د تضمين او کرېډېټ سيسټم تر منځ د تړاو نه ايجاد، او دريم : هغه ستونزې او خنډونه چې د مقررې د نه پيلي کيدو لامل ګڼل کيږي لکه :د کرېډېټ سيستم په اړه د لازم پوهاوي نشتوالی، د کرېډېټ سيستم د پلي کولو لپاره د لازمو وسايلو او امکانانو نشتون او داسې نورې ستونزې چې په دې ليکنه کې په ګوته او لازمې حل لارې ورته پيشنهاد شوې دي.

**کليدي کلمـــــې:** افغانستان، مقرره، زده کــــړه، لېسانس، کــــــرېډېټ سيستم

## مقـــــــــــــــدمة

حمد او ثنا هغه ذات لره دي چې انسان يې پيدا کړ او هغه څه يې ور زده کړل چې مخکې نه پرې پوهيده (علم الانسان مالم يعلم) [1]د الله تعالی ستره پيرزوينه په بنده گانو دا وه چې د جهالت له تيارو څخه يې را ويستل او په لومړۍ وحې کې يې ورته وفرمايل: (اقرأ باسم ربک الذي خلق) [2] يقينا علم هغه ستره وسله ده چې د تل لپاره د تاريخ په اوږدو کې انسان ور څخه په گټه اخيستلو سره هر ډول ستونزو ته دحل لاره را ويستلې، د علم يوازې همدا ارزښت بس دی چې د الله تعالی په کتاب کې د علم لفظ په مختلفو تعبيراتو سره درې سوه ځله ذکر شوی، نو له دې کبله د علم زده کړه د هر مسلمان شرعی وجيبه گڼل کيږي او د حکومتونو له اړينو وجيبو څخه يوه هم د علم د زده کړې د زمينې برابرول دي تر څو د هېواد ټول وگړي بلا استثناء د دې نعمت څخه مستفيد شي، نو ددې سربيره چې د علم د زده کړې لپاره متخصص کادر، علمی چاپيريال اړين دي په همدې توگه د زده کړې د چارو د مخ ته تللو لپاره د قوانيو او مقرراتو شتون هم اړين بلل کيږي، تر څو د علم په زده کړه کې شرعی، ملی او نړيوال معيارونه تطبيق او ورته پام وشي. په علمی ډگر کې تر ټولو اړينه او مسلکي دوره هغه د ليسانس دوره گڼل کيږي، چې هرومرو ورته د پام وړ پاملرنه وشي، او د دې دورې د علمی او اداري چارو د سمبال لپاره د لوړو زده کړو وزارت لخوا د ليسانس د دورې د زده کړې تر عنوان لاندې مقرره وضع او نافذه شوې ده، او دا مقرره د بېلابېلو ښبگڼو تر څنگ د پام وړ ستونزې هم لري،چې په دې لنډه څېړنه کې د افغانستان د لېسانس د دورې د زده کړې د مقررې په اړه لنډ بحث تر سره شوي تر څو د دې مقررې ستونزې په گوته و لازمې حل لارې وړانديز شي.

دا لنډه څېړنه په حقيقت کې د يوه اساسي پوښتنې ځواب ويونکې ده چې د دې مقررې ستونزې کومې دي او د دې ستونزو د حل لارې چارې څه دي؟ په لومړي مطالعاتو کې داسې ښکاري چې په دې مقرره کې د بېلابېلو ښېگڼو تر څنگ د پام وړ ستونزې هم ليدل کيږي، چې د دې ښېگڼو او ستونزو په گوته کول او ستونزو ته يې لازم حل وړانديز کول، د دې څېړنې اساسي موخې دي. د دې څېړنې د ليکلو پر مهال تر ټولو لويه ستونزه چې ورسره مخ شوم هغه د منابعو او اخځليکنو نشتوالی دي چې تردې دمه په پښتو او دري ژبو کې د دې مقررې په اړه کوم د تمې او خوښې وړ څه نه وو ليکل شوي، نو په همدې توگه ما وغوښتل چې په پښتو ژبه د دې مقررې په اړه ترخپلې وسې څېړنيز او هراړخيز څېړنه ولرو تر څو د مقررې په تعديل او په علمی چاپيريال کې مفيده واقع شي. په دې تحقيق تر ډېره حده له توصيفی، استقرايي( استنباطي) منهج څخه گټه اخيستل شوې ده، چې په همدې توگه د افغانستان نافذه قوانينو ته د پام وړ پاملرنه شوې ده. نو هيله مند يم چې دا څېړنه په علمی او

---

ـ د علق سوره ۵ ايت.1

- د علق سوره اول ايت .2

زده کړیال چاپریال کې ګټوره واقع شي، تر څو وکولای شو چې د افغانستان د زده کړې پروګرامونه لا معیاري او د معاصرو تقاضاوو ځوابونکی واوسي.

## مقررې ته لنډه کتنه

دا مقرره چې د لیسانس د دورې د زده کړې د مقررې په نوم یادیږي، چې د دې مقررې طرحه په ۱۰/۱۱/۱۳۹۸هـ نېټه د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې په غونډه کې په اته فصلونو او څلورڅلویښت مادو کې تصویب شوې، او په ۱۴/۱۲/۱۳۹۸ هـ نیټه د افغانستان پخوانی رئیس جمهور محمد اشرف غنی لخوا منظور شوې او د عدلیې وزارت په رسمی جریده کې نشر شوې ده.

دغه مقرره د ملکي لوړو زده کړو د قانون د یو اویایمې مادې دحکم له مخې د لاندنیو موخو لپاره وضع شوې ده:

1. د لوړو زده کړو د مؤسسو د محصلانو معیاري زده کړو او د متخصص او ژمن انسانی ځواک روزنه.
2. له نړیوالو ستنډردونو سره سم د لوړو زده کړو د مؤسسو د زده کړه ییز سیستم معیاری کول.
3. د فعالیتونو پرمختیا، وده او پیاوړې کول او د نړیوالې آزمایښت شوو تګلارو له رعایت سره سم د محصلانو عملی برخه اخیستنه.
4. مستعد، نخبه او هڅاندو محصلانو لپاره د فرصتونو او عملی زمینو برابرول.
5. د محصل محوری د تحقق لپاره د زمینو رامنځ ته کول.
6. د لوړو زده کړو په مؤسسو کې د دولسمو او څوارلسمو ټولګیو د فارغانو د شمولیت تنظیمول.
7. د کار زده کړې پورې د اړوندو چارو تنظیمول.
8. د لوړو زده کړو په مؤسسو کې د محصلانو په تبدیلی پورې د اړوندو چارو تنظیمول.
9. د لوړو زده کړو په مؤسسو کې د اکاډمیک ثبات تامینول.[3]

د لیسانس د دورې د زده کړې اساسات، د آزموینو اخیستل او چارو سمبالول، د پوهنتونو او علمی موسسو څخه د تبدیلی او شاملېدو اړوند امورو تنظیمول او محصلانو ته د خدمتونو وړاندې کول د دې مقررې اساسی مباحث ګڼل کیږي.

## ښېګڼې

د دې څېړنې لومړي برخه د دې مقررې د ښېګڼو د ښکاره کولو لپاره ځانګړې شوې ده چې په دې برخه کې به د دې مقررې د ښېګڼو په اړه په څېړنه کیږي.

د لیسانس د دورې د زده کړې مقرره ، لومړي او دوه یمه ماده.3

**الف:** د لیسانس د دورې د زده کړې مقرره د کریدت سیستم په مطابقت سره جوړه شوې او تنظیم شوې ده ، چې یو پرمختللی او مؤثره سیستم ګڼل کیږي او تر ډېره حده د اوسنۍ تقاضاوو او غوښتونو ځواب ویونکې دي.د کریدت سیستم په علمي او تحصیلي برخه کې یو نړیوال او معیاري سیستم بلل کیږي، چې د نړۍ په معتبرو پوهنتونو کې پلی کیږي، او د دې سیستم پلی کول په افغانستان کې یوه اړینه اړتیا لېدل کیږي ځکه دا سیستم د (OBE)[4]سیستم(پایلې لرونکې لوړو زده کړو) او د ( SCL)[5] میتود (محصل محوری) باندې را څرخیږي ترڅو محصل د تحصیل په دوره کې د منفعل له حالت څخه فعال حالت ته رشد وکړي او په درسونو کې رغنده رول ولري، او دا سیستم یو انعطاف منونکي سیستم دي چې محصیلنو ته ډېر فرصتونه د وخت، اقتصادی وړتیا او چټک پرمختګ لپاره مساعد کوي، او د دې تر څنګ په دا سیستم که د استاد مسؤلیتونه او دندې لا زیاتې او موخې لرونکې کیږي، تر څو محصلینو ته د اړتیا وړ علمی او تحصیلي خدمتونه وړاندې کړي.

**ب:** د دې تر څنګ چې مقرره د ماهوي له لحاظه د کرېډت سیستم په مطابقت سره جوړه شوې، د شکلي له لحاظه هم یوه منظمه او د تقنینی اسنادو د شکلی معیارونو مطابق تنظیم شوي ده.

**ج:** دا مقرره د نړۍ له معتبرو زده کړه ییزو معیارونو سره مطابقت لري، چې تطبیق به یې د افغانستان د زده کړې سیستم د لیسانس د دورې لپاره د نړیوالو معیارونه سره همغږي کړي.

## ســتونزې

بې له شکه که انسانان په یوه برخه کې قانون وضع کوي او یا څېړنه کوي که هر څومره سعیه او کوښښ هم وکړي نو هرومرو به پکې ځینې ستونزې او خلاګانې شتون ولري، ځکه نقص د انسانانو له ذاتی صفاتو څخه یو صفت ګڼل کیږي، لکه څنګه چې الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلی دی: أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ اخْتِلاَفًا كَثِيراً [6] ژباړه : ولې خلک د قرآن کریم معنی ته نه ځیر کیږي؟ که دا د الله پرته د کوم بل چا له لوري وای نو په ده کې به ډېر اختلافات او ستونزو شتون درلود. نو په دې مقرره کې د ځینو ستونزو او خلاګانو شتون یوه معتاده او معموله موضوع ګڼل کیږي چې د بشر د کړنو سره لازمې او ملزومې دی. د دې څېړنې په دې مبحث کې د مقررې د نواقصو او ستونزو په اړه بحث تر سره کیږي تر څو وکولای شو چې د مقررې په تعدیل او لا غنی والی کې مرسته وکړي او د افغانستان تحصیلی بنسټونه او چارې لا معیاري، د نړیوال ستاندرونو مطابق او د اوسنۍ عصر د غوښتونو ځواب ویونکې واوسي، نو د اسانتیا په موخه د مقررې ستونزې په دریو برخو ویشل شوي دي.

**لومړی**،هغه موارد چې په شتون کې یې ستونزې دي چې په لاندې مواردو کې ورباندې بحث کیږي

4 Outcome-based education

5 Student-Centered Learning

6 سورة النساء ، آیه ۸۲

**الف**: د مقررې د موخو د شمېر زیاتوالی چې د ګڼ شمېر موخو د تر لاسه کولو لپاره په متن کې عملي میکانیزم شتون نلري:

د دې مقررې دوهمه ماده د موخو لپاره مختص شوې ده چې نه موخې پکې راغلی دي چې د ځینو موخو د تطبیق او لاسته راوړو لپاره کوم میکانیزم په مقرره کې نه په سترګو کیږي، لکه څلورمه، او اومه موخه چې د مستعدو، نخبه او هڅاندو محصلانو لپاره د عملی کارونو فرصت برابرول او د کار زده کړې پورې د اړوندو چارو تنظیمول دي.[7]

**ب**: د مقررې له اساسي موخو څخه د محصلانو په علمي فعالیتونو او محصل محوری باندې تاکید دي تر څو محصلین د منفعلیت له حالته فعالیت حالت ته ارتقاء وکړي لکه څنګه چې د مقررې په دوهمه ماده کې د موخو په برخه کې وایي:

- د فعالیتونو پرمختیا، وده او پیاوړې کول او د نړیوالې آزمایښت شوو تګلارو له رعایت سره سم د محصلانو عملی برخه اخیستنه.
- مستعد، نخبه او هڅاندو محصلانو لپاره د فرصتونو او عملی زمینو برابرول.
- د محصل محوری د تحقق لپاره د زمینو رامنځ ته کول.[8]

او په همدې توګه د مقررې په دریمه ماده دیارلسمه فقره کې د محصل محوري زده کړې په اړه وایي: محصل محوري زده کړه هغه درسي میتود دی چې زده کړه ییز تمرکز له استاد څخه محصل ته لېږدول کیږي.[9] پورتنې مواردو په کتلو سره باید محصل ته د درسو په مخ ته وړلو او عملي فعالیتونو کې ونډه اخیستلو لپاره ډېره پاملرنه وشي او دا د کرېډېټ د سیستم له تقاضاوو او غوښتنو څخه یوه اړینه غوښتنه هم بلل کیږي. زما په اند محصلینو ته دېره ونډه ورکول په تدریس کې د ښه او معیاري تدریس له ځانګړتیاوو څخه ګڼل کیږي چې باید هر استاد ورته د پام وړ پاملرنه وکړي، خو یوه موضوع چې د محصل محوری لپاره خنډ واقع کیدای شي هغه د درسي ساعت دوخت کم والی دي ځکه په ټولګي کې د عملي فعالیتونو، سیمینارونو او علمي خبرو اترو لپاره کافي وخت ته اړتیا لېدل کیږي چې په دې برخه کې مقررې د درسي ساعتونه وخت ډېر محدود کړي چې د پورتنیو علمي فعالیتونو لپاره بسنه نه کوي چې په دې هکله د مقررې اتمه ماده کې  داسې راغلي: یو مضمون په عین ورځ کې له دوو ساعتونو( ۱۰۰ دقیقې) څخه زیات تدریس کېدای نه شي. د تطبیقاتو کارونه استثناء په یوه ورځ که تر څلورو ساعتونو پورې او ساحوي کارونه کېدای شي بشپړ ورځ وي.[10]

---

7  د لېسانس د دورې د زده کړې مقرره

مخکنې مرجع.8

مخکنۍ مرجع9

مخکنۍ مرجع10

د پورتنۍ مادې دوهمه څانگه د تطبيقی او ساحوي کارونو لپاره استثناء ورکړي چې دا استثناء يوازې هغه پوهنځيو کې د تطبيق وړ ده چې ساحوي او تطبيقی فعاليتونه لري او په زياتو پوهنځيو کې د پلي کېدلو وړ نه ده.

**جـ:** د مادو مبهم والی؛درويشتمه ماده د زده کړې د دورې موده لپاره مختص شوې ده چې د وړيا زده کړې زيات نه زياته دوره په څلورو کلنو پوهنځيو کې د ټاکلې دورې له دوو کلنو څخه او له څلورو کلنو زياتو پوهنځيو کې له دريوو کلنو څخه زياتېدي نه شي.[11]

د پورتنۍ مادې عنوان د زده کړې د دورې موده ده اما ياده ماده يوازې د وړيا زده کړې د مودې په اړه خبرې کړې دي، چې د دې مادې په اړه ځينې پوښتنې مطرح کيږي؛ لومړي: وړيا زده کړه کومه زده کړه ده؟ دويم: آيا دا هغه زده کړه چې د وړيا زمينې برابرول يې د افغانستان اساسی قانون دريځلوېښتمه ماده [12]په مطابق د دولت له وجايبو څخه گڼل کيږي او که د خصوصي پوهنتونو وړيا بورسونه هم پکې شامليږي؟

او دريم دا چې: که د زده کړې دوره وړيا نه وي نو موده به يې څومره وي؟

نو پورتنيو پوښتنو ته په کتلو سره دا ماده بايد تعديل، وړيا زده کړه تعريف او د هغو دورو موده چې وړيا نه وي تعيين شي، تر څو ابهام رفع او د وړيا او فيس لرونکې د دورو تر منځ توپير هم له منځه لاړ شي.

**د:** د لوړو زده کړو مؤسساتو د اکاډيميک استقلاليت نقض کول؛ د لېسانس د دورې د زده کړې مقررې په بېلابېلو برخو کې د پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسساتو اکاډيميک استقلاليت نقض کړي او د دوي په علمي او اکاډيميکو امورو کې يې مداخله کړې ده، په داسې حال کې چې د لوړو زده کړو قانون په دري دېرشمه ماده کې لوړو زده کړو مؤسسو ته خونديتوب يا مصؤنيت ورکړي. د بېلگې په توگه د مقررې څلورم فصل چې د آزموينو د چارو د تنظيم لپاره مختص شوي  د آزموينو ډول، د پوښتنو جوړښت، د آزموينې د وخت او داسې نور موضوعاتو په اړه بحث کوي، چې ياد فصل د علمي مؤسساتو د اکاډيميک استقلاليت د نقض کولو سربېره د آزموينو په اړه حقوقي اسناد تورم هم گڼل کيږي، ځکه د آزموينو په اړه بېلابېل اسناد لکه : د لېسانس د دورې د زده مقرره، د کرېډېټ لايحه، د آزموينو لايحه او د آزموينو طرزالعمل بحث کوي چې له بده مرغه له يادو اسنادو څخه په يوه يې هم د څېړونکي علمي تنده نه ماتيږي.

**هــ:** مقررې د ځينو مادو تر منځ تضاد؛ اووه ويشتمه ماده د سمستر د وروستۍ آزموينې د پوښتنو تعداد او نوعيت تعيين کړې دي چې دا تعداد او نوعيت په ځينو رشتو کې د تطبيق وړ ندي او يا مفيد او مؤثر نه واقع کيږي. ياده ماده د مقررې د شپږ ويشتمې مادې د دويمې فقرې سره هم په تضاد کې ده چې ياده فقره د آزموينې

11 مخکنۍ مرجع .

زده‌کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د لېسانس تر درجې پورې وړيا د دولت له خوا تأمينيږي12.
دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او د منځنيو اجباري زده کړو د تأمين لپاره اغېزمن پروگرام طرح او تطبيق کړي او د مورنيو ژبو د تدريس لپاره په هغو سيموکي چې پرې خبرې کېږي لاره هواره کړي.

نوعیت د آزموینې کمیټې د تصمیم په مطابق په تحریري، تقریري او یا مختلط توګه اخیستل کیږي چې اووه ویشتمه ماده د تقریري آزموینې په صورت کې د تطبیق وړ نه ده.[13] د آزموینې د چارو د سمبال لپاره د لوړو زده کړو وزارت لخوا د لوړو زده کړو مؤسسو د آزموینو لایحه[14] او د پوهنتونو د آزموینو د اخیستلو طرزالعمل[15] وضع کړې دي، چې د آزموینې لایحې په دیارلسمه ماده کې د آزموینې وخت، د آزموینې اخیستونکې او د پوښتنو ډولونه د پوهنځی علمی شوری ته تفویض کړي دي.

زما په اند د آزموینې د پوښتنو تعداد، نوعیت او اخیستلو چارې د مضمون او پوهنځی مطابق د پوهنځی علمي شوری او د آزموینې کمیټې ته سپارل یو معقول او مؤثر ګام دي، د دې تر څنګ که د نورو هېوادونو قوانینو او مقررو ته هم پاملرنه وکړو د آزموینې د پوښتنو نوعیت یې تعیین کړي نه دي د بېلګې په توګه د مصر په قانون تنظیم الجامعات[16] په پنځم باب کې  او د ایران هېواد په آیین نامه آموزشي دوره کارشناسی[17] کې یې د آزموینې اړوند چارو ذکر کړې اما د پوښتنو نوعیت او شمېر یې معین کړي نه دي .

**و:** د مقررې اته ویشتمه ماده څلورمه فقره د سمستر د وروستۍ آزموینې د پارچو په اړه وایې: د سمستر د وروستۍ آزموینې پارچې لږ تر لږه د یوه سمستر د مودې لپاره د آزموینو په کمیټه کې ساتل کیږي او له هغې وروسته د آزموینو کمېټې او د اړوند دیپارټمنت د ګډ پلاوي په شتون کې سوځول کېږي.[18] د سوځولو پریکړه زما په اند معقوله او ښه پرېکړه د اقتصادی او چاپېریال ساتنې له لحاظه نه ده، ځکه له نېکه مرغه اوس په هېواد کې د کاغذ او ورقو جوړلو بېلابېلې فابریکې شتون لري چې استفاده شوې ورقې تحلیل او تجزیه کوي او دوهم ځلې لپاره د هغه نه کاغذ او ورقې جوړیږي، نو که دا استفاده شوې ورقې په یادو فابریکو وپلورل شي هم د اقتصادي له پلوه ښه پرېکړه ده او د اسراف مخنوي به هم وشي او د چاپېریال ته به مو هم زیان نه وي رسولی.

**ز:** د مقررې دېرشمه ماده د محصلینو د تبدیلي په اړه بحث کوي د دې مادې په څلورمه فقره کې وایې: د خصوصی لوړو زده کړه له مؤسسو څخه دولتي لوړو زده کړو مؤسسو ته د محصلاتو تبدیلي مجاز نه ده.[19]

او په پنځمه فقره کې وایې: د دولتي لوړو زده کړو له مؤسسو څخه د خصوصی لوړو زده کړه مؤسسو ته د محصلانو تبدیلي تر دغو شرطونو لاندې صورت مومي:

1. د تبدیلي د فورمې بشپړول.

د لېسانس د دورې د زده کړې مقرره.13

14 د لوړو زده کړو مؤسسو د آزموینو لایحه ، ۰۲/۱۳۹۷ ، د لوړو زده کړو وزارت سایت.

15 د پوهنتونو د آزموینو د اخیستلو طرزالعمل ، د لوړو زده کړو وزارت سایت.

قانون تنظیم الجامعات المصریة 16 ۲۰۰٦

مقررات و آیین نامه های آموزشی دوره کارشناسي.17

18 د لېسانس د دورې د زده کړې مقرره

مخکنی مرجع.19

2. د خصوصي زده کړه ییزې مؤسسې هوکړه.
3. یواځې هماغې زده کړه ییزې څانګې، ټولګي او سمستر ته د تبدیلۍ تر سره کول.[20]

د څېړونکي په اند باید دا او د دې په شان توپیرونه د دولتي او خصوصي پوهنتونونو او مؤسسو تر منځ له منځه لاړ شي، ځکه د دولتي او خصوصي پوهنتونو او مؤسسو نه د ټولنې او اړوندو چارو د څارنکو له خوا تقاضاوې او د وضع شویو قوانینو پر وړاندې د دوی مکلفیتونه توپیر نلري. او په همدې توګه د دوي رسالت، مسؤلیت، مکلفیتونه او واکونه هم یو شان دي او توپیر نلري لکه څنګه چې د ملکي لوړو زده کړو قانون په یوولسمه ماده کې د توپیر نه پرته د لوړو زده کړو د مؤسسو دندې او واکونو ذکر کړي[21]، او دا دندې او واکنو یې مقید کړي نه دي، او په همدې توګه د لېسانس د زده کړې د دورې مقرره په څلورمه ماده کې د مقررې د تطبیق ساحه مطلقه ذکر کړې او د دوي تر منځ یې توپیر نه دي کړي لکه څنګه چې وایي: د دې مقررې حکمونه د لوړو زده کړو پر دولتي او خصوصي مؤسسو د تطبیق وړ دي.[22]

**ح:** شرعي ستونزې؛د څېړنې په دې برخه کې د مقررې شرعي ستونزو په اړه بحث ترسره کېږي چې تر یوه حده دا ملاحظات نسبی هم ګڼل کېږي.

**۱:** د مقررې اووم فصل محصلانو ته د خدمتونو طرحه او پلې کولو ته ځانګړې شوې ده، چې د خدمتونو د وړاندې کولو په لړۍ کې، یوڅلوېښتمه ماده په پنځمه فقره کې[23] د نارینوو او ښځینوو محصلینو لپاره په بېلابېلو څانګو کې د ورزشي فعالیتونو په اړه په مطلقه توګه ذکر شوي دي په داسې حال کې شریعت د ښځینوو د ورزشي فعالیتونو خلاف ندي په دې شرط چې دا فعالیتونه د شرعی حجاب،اسلامی او افغاني کلتور ته په پام سره تر سره شي نو دا موضوع په دې مقره کې باید مقیده ذکر شوي وای، تر څو د دې مادې نه سوء استفاده تر سره نشي.

**۲:** په پورتنۍ فقره کې د موسیقۍ او کنسرتونو جوړولو باندې هم تاکید شوي چې باید محصلینو ته وړاندې شي، په داسې حال کې چې اکثره علماء د موسیقي د جواز په اړه منفی نظر لري او د موسیقي د حرمت په اړه بېلابېل دلایل هم شتون لري.[24] او بل د موسقي د کنسرتونو جوړول د افغانی کلتور سره - په علمی چاپیریال کې

20 مخکنې مرجع
د ملکي لوړو زده کړو قانون.21
22 د لېسانس د دورې د زده کړې مقرره.
د لېسانس د دورې د زده کړې مقرره.23
24عن عُروةَ عن عائشةَ قالتْ: دخلَ عليَّ رسولُ الله - صلى الله عليه وسلم - وعِندي جاريتانِ [مِن جَواري الأَنصارِ 2/ 3] (وفي روايةٍ: قَيْنتان 4/ 266) [في أيام مِنى، تُدَفِّفان وتَضربانِ 4/ 161]، تُغنِّيانِ بغناءِ (وفي روايةٍ: بما تقاوَلَت (وفي أخرى: تَقاذَفَتِ) الأَنصارُ يوم) بُعاثٍ (2) [وليستا بمغنِّيَتَيْنِ]، فاضطَجَعَ على الفِراشِ، وحوَّلَ وَجهَهُ، ودخلَ أبو بكرٍ [والنبيُّ - صلى الله عليه وسلم - متَغَشٍّ بثوبهِ 2/ 11]، فانتهرَني (وفي روايةٍ: فانتهرهما) وقالَ: مِزْمارَةُ (وفي رواية: مزمارُ) الشيطانِ عندَ (وفي روايةٍ: أمزاميرُ الشيطان في بيت) رسولِ الله - صلى الله عليه وسلم -[مرتين]؟! فأَقبلَ عليهِ رسولُ الله - صلى الله

– تر ډېره حده په تضاد کې دي، او د دې تر څنګ زموږ د ټولنې هيچ ستونزه هم نه ورباندې حل کيږي او يو غير معتاد او نامعمول عمل هم ګڼل کيږي.

**۳:** د مقررې په لوستلو او څېړنه کې لوستونکی او څېړونکی، ملي، علمي، فرهنګي، ورزشي، ټولنيز، دوديز، زده کړه ييز او داسې نور معيارونه ډېر مونډلي شي اما د اسلامي او شرعي معيارونو څرک هم پکې مونډلي نه شي. په دې کې شک او شبهه نشته چې اسلام يو کامل او بشپړ دين دي لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلی: « الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَ أَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَ رَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينا» [25]ژباړه. نن مو تاسو ته ستاسو دين بشپړ کړ او خپل نعمت مو پر تاسو پوره کړ او ستاسې لپاره مې اسلام دين ستاسې د دين په توګه منظور کړ. نو لازمه ده چې اسلام يوازې تر عباداتو منحصر نکړو لکه څنګه چې سيکولارزم باور لري چې دين يوازې د اخروي احکامو او عباداتو لپاره نازل شوي او د انسانانو په دنيوي امورو کې دخيل ندي لکه څنګه چې وايي: (أعط ما للقيصر لقيصر، و ما لله لله)[26]. يعنی دنيوي او اخروی امور دواړه سره جلا دي او دين بايد د ژوندانه په امورو کې دخيل نشی او هغه څه چې د حاکم او حکومت والی حقوق او کړندلاره ده د دين نه جلا ده.

اما موږ اعتقاد لرو چې زموږ ټول ژوند او مرګ يوازې د الله تعالی لپاره دي : قُلْ إِنَّ صَلاتِي وَ نُسُكِي وَ مَحْيايَ وَ مَماتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعالَمِينَ.[27] ژباړه : ووايه : زما لمونځ، زما د عبادت ټول مراسم، زما ژوند او زما مرګ، هر څه د کائنياتو د پالونکي الله تعالی لپاره دي. ځکه اسلام زموږ د ژوندانه په بېلابېلو برخو کې لارښونې او احکام لري چې د انسان په دنيوی او اخری ژوندانه که د سرلوړی او برياليتوب سبب ګرځي، او زموږ عزت او سرلوړې يوازې د الله تعالی د احکامو په پلی کولو کې ده لکه څنګه چې عمر رضی الله عنه وايی: موږ داسې قوم يو چې الله تعالی موږ ته اسلام سره عزت راکړي او که دا عزت مو بغير له اسلام نه په بل څه کې ولټاوو نو الله به مو

---

عليه وسلم - (وفي روايةٍ]: فكشف النبيُّ - صلى الله عليه وسلم - عن وجهِه)، فقالَ" :دعْهُما [يا أبا بكرٍ! [فـ] إِنَّ لكلِّ قوْمٍ عيداً، وهذا عيدُنا] ". فلمَّا غَفَلَ غَمَزْتُهُما فخرَجَت . صحيح البخارى رقم الحديث : ۹۴۹
قال ابن القيم في توجيه حديث نَافِعٍ، مَوْلَى ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ: " سَمِعَ صَوْتَ، زَمَّارَةِ رَاعٍ فَوَضَعَ أُصْبُعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ، وَعَدَلَ رَاحِلَتَهُ عَنِ الطَّرِيقِ "، وَهُوَ يَقُولُ: يَا نَافِعُ أَتَسْمَعُ؟، فَأَقُولُ: نَعَمْ، فَيَمْضِي حَتَّى، قُلْتُ: لَا فَوَضَعَ يَدَيْهِ، وَأَعَادَ رَاحِلَتَهُ إِلَى الطَّرِيقِ، وَقَالَ: " رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَمِعَ صَوْتَ زَمَّارَةِ رَاعٍ فَصَنَعَ مِثْلَ هَذَا " أخرجه الإمام أحمد وغيره، يقول ابن القيم - رحمه الله تعالى -: وأما كونه لم يأمر نافعًا بسدِّ أذنيه عنده، فلأن المحرم إنما هو الاستماع والإصغاء، لا السماع من غير إصغاء واستماع، فلا يجب على الإنسان سدُّ أذنيه عند سماع الأصوات المحرمة، وإنما الذي يحرم قصد استماعها والإصغاء إليها. كتاب: الكلام على مسألة السماع

25 سورة المائده آية ۳

26 دا قول مسيحين، مسيح عليه السلام ته منسوبوي د جزيې په هکله کله چې بنی اسرائيل د روم پادشاه ته ورکوله. او اوسنې مسيحين په دا عبارت استدلال کوي چې دين د سياست او سياست د دين سره تړاو نلري او دواړه له يو بل څخه جلا دي، ځکه دين د الله لخوا او سياست له انسان له خوا منځ ته راځي.

27 سورة الانعام ، آيه ۱۶۲.

هرومرو ذلیله کړي.[28] د اسلام سپڅلي دین د ملي، فرهنګي او داسې نورو معیارونو سره په تضاد کې نه دي بلکې په هغه یې تاکید هم کړی او د دې معیارونو د اصلاح او پلي کولو لپاره یې احکام او لارښونې هم کړي دي، نو په دې شرط چې د الله او بندګانو حقوق پکې محفوظ او دنیوي او اخروي ګټې ولري. نو د مقررې په تعدیل کې باید اسلامی معیارونو او لارښوونو ته په بېلابېلو برخو کې پاملرنه وشي، خاصة د مقررې په اووم فصل کې د محصلانو ته د خدمتونو وړاندې کولو او پلی کولو کې، محصلینو ته د اسلام پېژندنې، د پیامبر صلی الله علیه وسلم د سیرت پوهاووی او د انفرادی او ټولنیز ژوند اصول د اسلام د سپېڅلی دین د لارښونو په رڼا که د کورسونو او سیمنارونو او مسابقاتو په بڼه وښودل شي، تر څو  وکولای شو چې د الله تعالی دین لکه څنګه چې نازل شوی او امر یې کړی عملی او پلی کړو.

**۴:** په مقرره کې د ذکورو او اناثو د صنفونو د جلاوالي او د اناثو لپاره د لازم چاپیریال برابرولو لپاره باید یوه مشخصه او عملی کړند لاره او میکانیزم جوړ شي، تر څو وکولای شو چې په علم او اسلامي لارښونو  سمبال خویندې ټولنې ته وړاندې کړو څکه اسلامي ټولنه عامة او  افغانستان خاصة د خویندو تحصیل او تعلیم ته اړینه اړتیا لري لکه څنګه چې وایی: ښځه د ټولنې نیم نفوس دي او نیم نور روزي او تربیه کوي یې.

**۵ :** د مقررې په موخو کې د اسلامي عقیدې او شرعی لارښونو پیاوړي کول، او د افغانستان له تاریخ نه خبرېدل، د یوې موخې په توګه ذکر شي لکه څنګه چې د اردن هېواد د لوړو زده کړو او علمی څېړونو په قانون ( قانون التعلیم العالی و البحث العلمی) کې په دریمه ماده دوهمه فقره کې د موخو په توګه ذکر شوي.[29]

## دوهم، په مقرره کې د ځینو لازمو مواردو نه شتون

په دې مبحث کې د مقررې د خلاګانو په اړه بحث تر سره کیږي تر څو وکولای شو چې دا خلاګانې ډکې او د مقررې په تعدیل کې مثبت واقع شي، دا خلاګانې د هغه موضوعاتو په اړه څېړنه کوي چې په مقرره کې ذکر شوې نه دي په داسې حال کې چې ذکر کول یې اړین او لازمی ګڼل کیږي او په دې مبحث کې تر ډېره حده د اسلامي هېوادونو قوانینو او مقررو ته پاملرنه شوې ده.

**الف:** د مقررې څلوردیرشمه ماده د بریالیتوب او نه کرېډت د نمرو او علامت ګذارۍ لپاره ځانګړې شوې ده چې د بریالیتوب نمرې د ۵۵ نه تر ۱۰۰ پورې په ( A,B,C,D) نشانی شوې او د نه کریډت نمرې چې تر ۵۵ کمې وي په (F) علامه ښکاره کیږي.[30] په همدې توګه د کریډت د سیستم لایحه چې د عالی تحصیلات مؤسساتو د لیسانس د زده کړې د دورې لپاره وضع شوې ده په پنځه ویشتمه ماده کې د لېسانس مقررې ته ورته د بریالیتوب

صحیح ابن حبَّان» (٦٥٦٤) ، وحسَّنه الألباني في «التعليقات الحسان على صحيح ابن حبان» 28٦٥٣٠

29  المادة الثالثة : يهدف التعليم العالي و البحث العلمي الى تحقيق الغايات التالية: ب : ترسيخ العقيدة الاسلامية و قيمها الروحية و الاخلاقية و تعزيز الانتماء الوطنى و القومي.

د لیسانس د دورې د زده کړې مقرره. 30

او عدم کرېډېټ نمرې او علامې ذکر کړې دي.[31] خو د نمرو او علامو تر څنګ د (GPA)[32] مالومول او تعیین په اړه څه ندي ذکر شوي چې زما په نظر د (GPA) په عدد سره نه ذکرکول یوه خلا خاصة د کریدت په سیستم کې ګڼل کیږي.

**ب:** په تېرو دوه لسیزو کې د لوړو زده کړو په برخه کې ځینې د پام وړ مثبت پرمختګونه شوي دي، لکه د نصاب معیاري کېدل،د خصوصي پوهنتونونو او مؤسسو تأسیس،د بېلابېلو تحصیلي رشتو جوړښت، د علمی کادرنو ظرفیت لوړېدل، د ځینو څېړنیزو مرکزونو تأسیس او بریښنایی زده کړې له اړینو لاس ته راوړنو څخه بلل کیږي.

اما له بده مرغه له څنګه چې اړتیا وه د بریښنایي زده کړو «E-Learning»[33] په برخه کې ډېر د پام وړ پرمختګ نه دي شوی، چې د دې لامل کېدای شي بېلابېل موضوعات وي لکه:

- د یوه قوي انټرنېټ نشتوالی.
- د الکترونیکي وسایلو کمښت او نشتوالی په ځینو تحصیلي مؤسسو او پوهنتونو کې.
- د یوه مجهز او پرمختللی سرور نشتوالی.
- د استادانو او اکثر محصلینو نه لاس رسی انټرنیت او الکترونیکي وسایلو ته.
- د مجهزو تلویزوني او رادیووي استډیوګانو او برنامو نشتوالی.

او تر ټولو اړین په تقنینی اسنادو کې لکه د ملکي لوړو زده کړو قانون او لېسانس او لوړو زده کړو مقررو کې د «E-Learning» په اړه څه ندي ویل شوي او د «E-Learning» په برخه کې لکه څنګه چې لازم دي تقنینی اسناد او لارښونې شتون نلري.

**ج:** په مقرره کې څېړنیزو او عملي فعالیتونو ته د پام وړ پاملرنه نه ده شوې په داسې حال کې چې څېړنه د یوه هېواد په تحصیلی بنسټ کې اساسي رول لري که دا څېړنه د محصل لخوا تر سره کیږي او که د استاد له خوا، او په اوسني عصر که هغه تر ټولو ښه پوهنتون او تحصیلی بنسټ دي چې د څیړنو په برخه کې فعال او څېړنیز مراکز لري، چې دا څیړنې باید په بېلابېلو برخو کې تر سره شي تر څو د ټولنې او هېواد لپاره مفیدې او مؤثرې واقع شي. د کرېډېټ د سیستم له ځانګړتیاوو څخه د محصل فعال ساتل دي که هغه په نظري برخو کې وي او که عملی فعالیتونو کې، چې له لده مرغه دې موضوع ته د لېسانس په مقرره کې خاصة او د هېواد په تحصیلي بنسټونو کې عامة ډېره د پام وړ پاملرنه نه ده شوې.

**د:** په صنفونو کې د محصلینو د شمېر او ورته د لازمو وسایلو برابرولو په اړه مقررې سکوت کړی، چې له بده مرغه په دولتي او ځینې خصوصي پوهنتونو کې د دې سکوت نه سوء استفاده کېږي او په صنفونو کې د محصلینو

31د کریدت د سیستم لایحه د عالی تحصیلات مؤسساتو د لېسانس د زده کړې د دورې لپاره.

32Grade Point Average

33Electronic Learning

د ډېروالي له کبله د تدريس موخې په ښه توګه نه پلي کيږي په خاصة توګه د شمېر ډېروالی د محصل محوري او عملی فعاليتونو پر وړاندې لوی خنډ واقع شوي دی. نو زما په اند که د مقررې په تعديل کې دې برخه ته پاملرنه وشي يو ښه او پرځای اقدام به وي او د تدريس په برخه او لاس ته راوړنو کې به مفيد او مؤثر واقع شي.

## دريم : هغه ستونزې او خنډونه چې د مقررې د نه پيلي کيدو لامېل ګڼل کيږي

که څرنګه چې په مخکنی محبث کې ذکر شول چې د ليسانس د دورې د زده کړو مقرره د کرېډېټ سيستم چې يو نړيوال او معياري سيستم ګڼل کيږي جوړه شوې ده نو د دې سيستم  په تطبيق او پلی کولو کې ځينی ستونزې او موانع شتون لري چې په دې مبحث کې به وربانديې په مفصله توګه بحث او څيړنه کيږي تر څو د دې مقررې د پلي کولو په برخه کې شته ستونزې رفع او موانع له منځه لاړې شي.

**الف:د متخصص او مسلکي کادر کمښت؛** لکه څنګه چې د دې سيستم له اړينو ځانګړتياوو څخه د اړتيا مطابق د استادانو او علمی کادر شتون بلل کيږي او په کرېډېټ سيستم کې علمی کادر ته اړتيا د مخکنې سيستم په پرتله ډېره ليدل کيږي ځکه :

١ – د محصلينو د عملی چارو د مخ ته بيولو لپاره د لارښود استاد ټاکل لکه څنګه چې د مقررې په پنځلسمه ماده کې وايی:

- (١) اړوند ديپارتمنت يا پوهنځی امکاناتو ته په کتو سره په هر کال کې د هر ټولګي محصلانو لپاره د علمي کادر يو غړی د لارښود استاد په توګه ټاکي.
- (٢) د دې مادې په (١) فقره کې درج شوی لارښود استاد د محصلانو د زده کړې ييزې څانګې سره سم ټاکل کيږي او د اړوندو محصلانو د اکاډميکو چارو مسؤل وي.
- (٣) د دې مادې په (١) فقره کې د درج شوي لارښود استاد فعاليتونه د هغه په علمي فعاليتونو کې محاسبه کيږي.

په همدې توګه د لارښود استاد د ټاکلو په هکله د کرېډېټ سيستم لايحه چې د لېسانس دورې د زده کړې ،د لوړو زده کړو مؤسسو لپاره چمتو شوې په لسمه ماده کې وايي: د پوهنځی د علمی شوری لخوا د کرېډېټ سيستم د ستونزو د حلولو په هکله د يو استاد د لارښود استاد په توګه د لږ تر لږه د شلو محصلينو لپاره ټاکل کيږي چې د يادشوې استاد فعاليتونه به په اکاډميک فعاليتونو کې حسابيږي.[34] او په همدې توګه د لايحې په پنځلسمه ماده کې هم د شلو محصلينو د لارښونې لپاره د ديپارتمنت له خوا د لارښود استاد د تعيين په هکله تاکيد کړی دي چې د محصلينو د اکاډميکو چارو مسوليت به په غاړه لري.[35] د محصلينو لپاره د لارښود استاد ټاکل يوه مؤثره و اړينه پرېکړه بلل کيږي چې د کرېډېټ سيستم له ځانګړيتياوو څخه ده او  په ډېرو هېوادونو کې دا پرېکړه پلی

34 د کرېډېټ سيستم لايحه د لېسانس دورې د زده کړې ،د لوړو زده کړو مؤسسو لپاره

35 مخکنی مرجع..

کیږي د بېلگې په توگه د مصر هېواد لکه څنگه چې په (اللائحة للمرحلة الجامعية الأولى بنظام الساعات المعتمدة) په دولسمه ماده کې ورباندې تاکید شوي دي.[36]

۲ - د زده کړې د کورسونو دایرول د هغه محصیلنو لپاره چې په یوه یا څو مضامینو کې د کرېډټ معیار یې نه دې بشپړ کړي، نو دې کورسونو د دایرولو لپاره د استادانو او علمی کادر شتون اړین بلل کیږي، تر څو محصلینو ته د اړتیا مطابق کورسونه جوړ او علمی خدمات وړاندې شي.

**۳** - محصیلونو ته د بېلابېلو لکه اساسي، مسلکی، پوهنتون شموله او اختیاري مضامینو د تدریسی کورسونو وړاندې کول، چې روښانه خبره ده چې د مضامینو او کورسونو تعدد د استادانو د تعدد لامل گرځي.

**۴**- د افغانستان د ملکی لوړو زده کړو د قانون له مخې مرستیال استاد په جلا توگه د تدریس حق نلري او باید د استاد تر نظر لاندې په تدریس کې گډون وکړي، لکه څنگه چې د ملکی لوړو زده کړو د قانون په شپږ دېرشمه ماده کې وایې: د علمی کادر غړي د لاندې دندو او واکونو لرونکي دي:

(۱ ) د استاد مرستیال (اسیستانت) دندې او واکونه :

۱ د استاد تر نظر لاندې په تدریس کې گډون.[37]

او د یاد قانون په څلور دېرشمه ماده په لومړي فقره کې وایې:

د علمی کادر غړي، د لاندې علمی رتبو لرونکي دي:

الف- د استاد مرستیال ( اسیستانت):

1. پوهنیار(Teaching Assistant)
2. پوهنمل( Senior Teaching Assistant )[38]

په همدې توگه د یاد قانون په اووه دېرشمه ماده کې د پوهنیار د منلو شرایط ذکر کړي او وایی: هغه شخص د پوهنیار په توگه منل کیږي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي:

1. د لوړو زده کړو د مؤسسې له حضوري برنامې څخه د ماسترۍ د تحصیلي سند لرل.

---

يحدد مجلس القسم مرشًدا أكاديميًا لكل طالب، ويعرض الأمر على مجلس شئون التعليم والطلاب بالكلية،36 ثم على مجلس الكلية للحصول على الموافقة. ويفضل أن يكون من أعضاء هيئة التدريس من التخصص نفسه كلما أمكن، وذلك لتعريف الطالب الخطة الدراسية الخاصة به ومتابعة تنفيذها واختيار المقررات الدراسية الإجبارية والاختيارية وفقًا لتلك الخطة ويكون أرى المرشد الأكاديمي استشاريًا وغير ملزمًا، ولا يعتمد التسجيل إلا بموافقة المرشد الأكاديمي على العبء الدراسي للطالب

د ملكي لوړو زده کړو قانون ۱۳۹۴/۶/1137

مخکنې مرجع38

2. له هېواده بهر د لوړو دزه کړو د مؤسسې له حضوري برنامې څخه د (MD, PharmD[39]) او [40] (DVM) تحصیلي سند هغه وخت منل کیږي چې نوموړې مؤسسه په اړوند هېواد کې د رسمي اعتبار لرونکې وي.[41]

او په همدې توګه په اته دېرشمه ماده کې د پوهنمل( Senior Teaching Assistant ) د منلو شرایط ذکر کړي او وایي: هغه شخص د پوهنمل په توګه منل کېدای شي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي:

1. د لوړو زده کړو د مؤسسې له حضوري برنامې څخه د دکتورا (PHD)[42] د تحصیلی سند لرل.
2. له هېواده بهر د خصوصي تحصیلي مؤسسې دحضوري دکتورا(PHD) تحصیلي سند، هغه وخت منل کېدای شي چې نوموړې مؤسسې په اړوند هېواد کې د رسمي اعتبار لرونکي وي.[43]

پورتنۍ مادو ته په کتلو سره چې د تدریس لپاره یې ذکر کړې آن تر دې چې د دکتورا سند لرونکی استاد هم تر څو چې د پوهنمل په رتبه کې وي په مستقلانه توګه د تدریس حق نلري. زما په اند په داسې هېواد کې لکه افغانستان چې د تحصیل کچه ډېره ټيټه،او د علمي او متخصصو کادرونو له کمښت سره هم مخ وي، او نافذه قوانین یې د تدریس لپاره هغه استادان چې د ماسټرۍ او دکتورا لرونکي وي- خاصة هغه کسان چې د هېواد نه بهر یې زده کړې او تدریس کړی وي- په مستقلانه توګه د تدریس حق ونلري او د بل استاد تر نظر لاندې په تدریس کې ګډون وکړي، یوه د واقع خلاف او نه پلی کېدونکي پرېکړه ده، خاصة د کرېډټ په سیستم کې چې د هغه له ځانګړتیاوو څخه د استادانو د تعداد لوړ والی دي تر څو په ښه توګه دا سیستم تطبیق او موخې یې پلې شي.

**ب :د صنفونو او تدریسي خونو کم والی؛** د کرېډټ د سیستم د ځانګړتیاوو څخه محصلینو ته د دوی د ورتیا، امکاناتو او توان په مطابق مضمونونه وړاندې او کورسونه دایر شي، د دې سربېره چې هغه محصلین چې په ځینې مضامینو کې عدم کرېډټ کیږي دوی ته ځانګړي صنفونه او کورسونه جوړ شي د بېلګې په توګه د مقررې په نولسمه ماده دوهمه فقره کې ذکر شوي:

که چېرې محصل په یوه یا څو هغو مضمونونو کې چې د هماغه سمستر له نیمایي کرېډټونو څخه ډېر کم وي محروم، غایب او د بریالیتوب د نمرې په اخیستلو ونه توانیږي بل سمستر ته ارتقاء کوي په هماغه مضمون یا

---

Doctor of Medicine39

Doctor of Veterinary Medicine40

مخکنی مرجع41

Doctor of Philosophy42

مخکنې مرجع.43

مضمونونو کې، نه کرېډټ شمېرل کيږي، د نه کرېډټ مضمونونو د بشپړولو لپاره د دوو سمسترو تر منځ په رخصتيو او يا په راتلونکو سمسترونو کې د لړۍ په پام کې نيولو سره له لاندې امکاناتو څخه ګټه اخيستی شي:

- د هغو مضمونونو د شمېر له مخې چې په کې د بريالیتوب نمره يې نه ده اخیستې له ۲ تر ۴ اونيو پورې د مضمون تعقیبول او د مضمون په پای کې د آزموينې تېرول.

نو د کورسونو د جوړولو لپاره د صنفونو او تدريسی خونو ته اړتيا شته چې زياتره پوهنتونونه د هغې د کموالي سره مخ دي.

**جـ:د کرېډټ د سیستم په هکله د لازمې پوهې نشتوالی؛**د کرېډټ سیستم خاصة په افغانستان کې يو نوي سیستم ګڼل کيږي چې د هغه د ځانګړتياوو، ښېګڼو او عملی چارو په هکله تر ډېره حده استادان، محصلين او اداري کارکونکې مالومات نلري، چې دا موضوع هم د کريډټ سیستم د نه پلی کېدلو يو اساسي لامل کيداې شي.

**د :د پوهنتونو تر منځ د دې سیستم د پلی کولو لپاره د همغږۍ نشتوالی؛**د محصلينو د کرېډټونو د انتقال په برخه کې له يوه پوهنتون نه بل پوهنتون ته د تبديلی په صورت کې د پوهنتونو د درسي سیستمونو د همغږي نشتوالی د دې لامل ګرځی چې اکثرا محصلين او اړوند مسؤلين د ستونزو سره مخ شي، چې د دې همغږۍ نشتوالی هم د کرېډټ سیستم د نه پلی کيدو لامل ګڼل کيږي.

**هـ :په تحصيلي برخه کې د لوجستيکي وسايلو نشتوالی او يا هم کموالی:**د تدريس او عملي فعاليتونو په برخه کې د لازمو اړتياوو لکه: لابراتوار، درسي مواد، د کاری او عملی فعاليتونو د وسايلو او ساحو محدوديت هم د دې سیستم د پلی کېدلو په برخه کې تر يوه حده خنډونه جوړ کړي دي.

**و:د ژمې د کورسونو نه داير کېدل:**د کرېډټ سیستم محصل ته په بېلابېلو اسانتياوو او امتيازاتو قائل دي لکه د هغو محصلينو لپاره چې په يوه او يا څو مضامينو کې عدم کرېډټ شي د ژمنيو کورسونو جوړول.

له بده مرغه په افغانستان کې د ژمنيو کورسونو د دايرولو لپاره ځينې خنډونه شتون لري لکه د صنفونو د تودوخی لپاره د امکاناتو نشتوالی او په همدې توګه د محصلينو لپاره په ژمی کې د دولتی هستوګنځاينو او تودوالي موادو نشتوالی د دې لامل ګرځی چې دا کورسونه ژمي په رخصتيو کې داير نشی، چې دا هم د کرېډټ سیستم په نه پلی کيدو کې د پام وړ ستونزه ګڼل کيږي.

**ز:د دې سیستم د معيارونو نشتوالی د تضمين کيفيت په برنامو او چک لستونو کې:**د کرېډټ د سیستم د نه پلي کېدلو د عواملو څخه يو هم د تضمين کيفيت په پروسه کې د دې سیستم د معيارونو نشتوالي، او په همدې توګه د اوسنی تضمين کيفيت ځينې معيارونه د کرېډټ د سیستم سره همغږي نه لري، نو دې سیستم د تطبيق لپاره اړينه ده چې د تضمين کيفيت په معيارونو کې تجديد نظر وشي او د دې اداري اړوند کارکوونکي ته د کرېډټ سیستم په هکله لازمې برنامې دايرې شي.

پاتې د نه وي چې د لوړو زده کړو وزارت د تضمین کیفیت لپاره د پام وړ تقنیني سند هم نلري، نو هیله ده چې د تضمین کیفیت لپاره داسې یو معتبر تقنیني سند تصویب شي چې د کرېډټ سیستم معیارونه ته پکې پاملرنه شوې وي.

**ح:د لیسانس د دورې د زده کړې مقررې د ځینو مادو غموض او مبهم والی:**په دې مقرره کې ځینې مادې غامضه او یا هم ځینې حقوقي او عملي ستونزې لري چې د دې سیستم په پلي کولو کې خنډ واقع کېدای شي، چې تر ډېره حده دې مادو ته په دې څېړنه کې اشاره شوې ده تر څو د مقررې په تعدیل کې مؤثره او ګټوره واقع شي.

په افغانستان کې د کرېډټ سیستم په کال ۱۳۸۳ هـ ش کې معرفي شو، د پورتنیو ستونزو له کبله په څو محدودو دولتي پوهنتونو کې لکه: د تعلیم او تربیې پوهنتون چې د کرېډت د سیستم د پلي کولو لومړی پوهنتون هم دی، پولی تخنیک پوهنتون، د ننګرهار او بلخ پوهنتونو او په خصوصي پوهنتونونو کې هم په ځینو پوهنتونونو کې لکه دکاردان پوهنتون، د امریکایانو پوهنتون د دنیا پوهنتون او داسې نورو پوهنتونونو کې پلی شوي دي.

## وړاندیزونه

1. د لیسانس د دورې د زده کړې مقررې او د کرېډټ د لایحې تعدیل او د مجملو او غامضو مادو تفسیر او عملي کول.
2. د کرېډټ د سیستم په هکله استادانو، محصیلنو او اداري کارکونکو ته د پوهاوي کورسونو دایرول.
3. د کرېډټ سیستم الزامي پلي کېدل او د دې سیستم د چارو نه د لوړو زده کړو وزارت دوامدار او هر اړخیز نظارت؛
4. د ساینسي علومو او اجتماعي علومو لپاره جلاجلا سیستم په نظر کې نیول؛
5. د برېښنایي زده کړو «E-Learning» په اړه لازم تقنیني اسناد وضع کول او ورته پاملرنه؛
6. د تضمین کیفیت په برخه کې د کرېډټ سیستم معیارونو او ارزښتونو ته پاملرنه؛
7. څېړنو او عملي فعالیتونو لپاره مشخص میکانیزم ایجادول.
8. استادانو او محصلینو ته د برېښنایي زده کړو «E-Learning» د موخو د پلي کولو لپاره د کورسونو او ټرېننګونو جوړول.
9. د زده کړې او زده کړه ییزو میتودونو په برخه کې د علمی کنفرانسونو او سیمنارونو جوړښت.
10. د لیسانس د دورې تحصیلی نصاب ته ژوره کتنه تر څو د اوسني عصر غوښتنو ځواب ویونکی او د کار د بازار سره مطابقت ولري.
11. د لیسانس د دورې په نصاب کې تخصصي او مسلکي مضامینو زیاتېدل او ورته جدي پاملرنه کول.
12. د کرېډټ د سیستم د پلي کولو لپاره د لازم تعداد متخصصو کادرونو جذب او لازمو آسانتیاوو، او وسایلو برابرول.

13. د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ د دې مقررې د احکامو د پلي کولو لپاره همغږي او د شته واټونو او توپیرونو لنډول او له منځه تلل.

## د څېړنې پایلې

د لېسانس د دورې د زده کړې مقرره د ځینو ښېګنو تر څنګ د پام وړ ستونزې هم لري، چې یادې ستونزې په دریو برخو ویشل شوي دي:

**لومړۍ: هغه موارد چې په شتون کې یې ستونزې دي، لکه:**

1. د مقررې د موخو د شمېر زیاتوالی؛
2. د لوړو زده کړو مؤسساتو د اکاډیمیک استقلالیت نقض؛
3. د مقررې د ځینو مادو او نورو نافذه قوانینو تر منځ تضاد؛
4. په ځینو مادو کې ابهام او بناءً تفسیر ته اړتیا؛
5. د مقررې د ځینو مادو له شرعی احکامو او افغاني ټولنې د عنعناتو او واقعیتونو سره تضاد.

**دوهم: په مقرره کې د ځینو لازمو مواردو نه شتون هم ستونزې زېږولی دي، لکه:**

1. د ګڼ شمېر موخو د تر لاسه کولو لپاره په متن کې عملي میکانیزم شتون نلري؛
2. له ساینسي او تطبیقي علومو سره د ټولنیزو علومو په څېر تعامل؛
3. په ټولګي کې د محصلینو د شمېر لپاره حد نه ټاکل مګر دا پدې معنی نه ده چې د شمول لپاره دې حد وټاکل شي؛
4. د نومرو او علامو په یادولو بسنه او د GPAنه تعیینول؛
5. عملي فعالیتونو او علمي څېړنو په هکله د مادو نه شتون؛
6. برېښنایي زده کړو «E-Learning ته نه پاملرنه؛
7. د کیفیت د تضمین او کریډټ سیستم تر منځ د تړاو نه ایجاد.

**دریم : هغه ستونزې او خنډونه چې د مقررې د نه پیلي کیدو لامېل ګڼل کیږي :لکه**

8. د متخصص او مسلکي کادر کمښت؛
9. د صنفونو او تدریسی خونو کم والی؛
10. د کرېډت د سیستم په هکله د لازمې پوهې نشتوالی؛
11. د پوهنتونو تر منځ د دې سیستم د پلی کولو لپاره د همغږۍ نشتوالی؛
12. په تحصیلي برخه کې د لوجستیکي وسایلو نشتوالی او یا هم کموالی؛
13. د ژمې د کورسونو نه دایر کېدل؛
14. د دې سیستم د معیارونو نشتوالی د تضمین کیفیت په برنامو او چک لستونو کې؛

15. د لیسانس د دورې د زده کړې مقررې د ځینو مادو غموض او مبهم والی.

## About the Author

**Mr. Abdullah Fazalyar**, *Lecturer Faculty of Law, Kardan University, Kabul Afghanistan.* <*a.fazalyar@kardan.edu.af*> ORCID ID: 0000-0002-2796-9335